# د کوټړی بیراج نه لاندے د اوبو د اخراج پحقله د مطالعو د معلوماتو خاص خاص خبري

د اوبو د تناسب لوظنامه د صوبو ترمینځه د کال 1991ء په شپاړسم مارچ لاس لیك شوي ده. د هاغه راسي د صوبو ترمینځه د اوبو ویش د لوظنامي د دفعو (شرطونو) مطابق کولی شي.

-2 د لوظنامي اوومه (7) دفعه کښې لیکلی دی:-

"د کوټړی لاندے سمندر ته د دومره کم نه کم اوبو غورزیدو ضرورت منلے شویدے چي د سمندر د اوبو راختلو مخنیوے اوکړیشي. د سنده په خیال کښے د اوبو پوره مقدار لس ملینه ایکړه فټه (MAF)پکار دے او پدے خه تفصیلي بحث شویده. په دے حقله چي نورے مطالعي شویدی د هغو ترمخه مقدار کښې لاندے باندے راځی. په دے وجه فیصله اوکړے شوه چي دے لړ کښے به نوري مطالعي کولی شي چي د کوټړی نه لاندي سمندر ته د کم نه کم اوبو غورزیدلو مقدار معلوم کړیشی"

-3 د پورته تجویز په رنړا کښے د پاکستان حکومت ' اکتوبر کال 2004ء کښے درے مطالعي شروع کړے او طفه دا دی:-

(i) د کوټړی لاندے د اوبو د اخراج یا سمندر ته د ضروری اوبو غورزیدو په بابله مطالعه چي د سمندری د اوبو د مداخلي مخنیوے وکړے شي.

(ii) د کوټړی لاندے د اوبو د اخراج پحقله مطالعه.چي د سنده صوبے ماحولیاتی اندیخنے لرے کړے شي.

(iii) د سلوروصوبو د ماحولیاتی اندیخنو په بابله مطالعه.(دیکښے هغه علاقے نه راځی چي مطالعه i او مطالعه ii کښے شاملے دی)

دا مطالعے معتبرو صلاحکارو ادارو ته وسپارلے شوے د لاندینو دریو بین الاقوامی ماهرانو یوے ڈلے(IPOE) د دي مطالعو جاج اخستو او سفارشونو په تیارولو لاس پورے کڑو۔

I- ڈاکٹر فرنانڈو۔ جے گونزالیز۔
د میکسیکو اوسیدونکے او د عالمی بینك پخوانے علاقائی ڈائریکٹر

II- ڈاکٹر تهنس بسون Thinus Basson۔
امریکنے استوگن او امریکه کنبے مختلفو پوهنتونونو سره صلاحکار

III- ڈاکٹر بارٹ شلتز BART SCHULTZ
د هالینڈ اوسیدونکے د اوبه خور او اعرابونو شعبه کنبے د دنیا منلے شوے صلاحکار

---

4- د پورته عمل په بنیاد چي د مطالعو سخه کوم معلومات ترلاسه شویدی۔ د هغے خاص خاص خبري دا دي۔

(a) کوٹڑی بیراج سره چي کال د سر کومے اوبه سمندر ته ځی۔ د دے مقدار پنځه زره کیوسکه دے۔ د دے ترمخه ضرورت د دے خبري دے چي د سمندر د اوبو راختو مخنیوے وکڑے شی۔ د مچهی مارئے د ضرورتونو خیال وساتلے شی۔ ماحولیاتی محکمتیا او د اباسین بهیر په ځائے وساتلے شي۔

(b) د سمندر د اوبو راختو اثر صرف د خکاره سطحے په اوبو پریوځی۔ د زمکے اوبو کنبے زیئم د سمندر د اوبو په وجه نه دے۔ د دے بنیاد په طبقات الارضی عواملو دے۔

(c) د پنځو کالو هره یوه موده کنبے د کوٹڑی لاندے پنځیشت ملینه ایکڑه فٹه (MAF) خوشے کول پکار دی سنگه چي (منی کنبے) سیلاب بهیگی۔ دغسے د اوبو مقدار د کال په حساب پنځه ملینه ایکڑه فٹه جوڑیگی۔ د پنځه ملینه ایکڑه فٹه اوسط په ځائے ساتلو دپاره د کلیزه خوشے کیدونکو اوبو مقدار کنبے ردو بدل کیدے شی۔

(d) د منی موسم کنبے (اپریل نه ستمبر پورے) د کوټڑی لاندے سمندر ته د غورزيدونکو اوبو مقدار د اعشاريه درے ملين ايکڑ فټه نه زيات يا برابر پکار دے. د اوړی موسم کنبے (د اکتوبر نه مارچ پورے) د مياشتے اعشاريه درے ملينه ايکړه فټه اوبو بهيدو سفارش شويدے. خو بياهم اوچ کال کنبے دا مقدار د اوبه خور د اوبو رسد کنبے د کمی له کبله نسبتا"کميدے شی.

(e) د پوسٹ تربيله اوبو د بهير شميرنے په بنياد د ذخيرو لاندي وسيلو سخه د اوبو شته والی پحقله سمون نه پس د پورته سفارشونو نتيجه دا راوځي. چي د کمو بارانونو مياشتو کنبے به د ذخيرو نه ضروری اضافی اوبه خوشے کولے شی. د دے مقدار به اوسطا"کال کنبے يو اعشاريه دوه شپگ ملينه ايکړه فټه (MAF) دی او بيخی اوچ کال کنبے به دوه اعشاريه دوه صفر ملينه ايکړه فټه وی. د دے دپاره به د اضافی اوبو ذخيره کولو ضرورت وی چي دغسے د نهری (اوبه خور) زراعت دپاره د اوبو شته والی کنبے کمے راه نه شی.

د کوټڑی بيراج لاندے ضروری اوبو خوشے کولو نه وړاندے چي سنگه او کله پکار وی ماحولياتی بهيرونه دي په مناسب ډول پورته سيندونو ته واړولے شی.